# تسالونیکیانو ته د پولوس رسول

# دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

پولوس رسول دا لیک د ۵۱ څخه تر ۵۲ میلادي کلونو ترمنځ لیکلی دی. پولوس په دې لیک کې هم لکه د خپل لومړني لیک په شان د تسالونیکیانو د ښار ایماندارانو ته د عیسی مسیح نړۍ ته د بیا راتګ په هکله خبرې کوي. د تسالونیکې په کلیسا کې د مسیح د راتللو په هکله ډول ډول نظرونه پیدا شوي وو چې د هغوی په منځ کې د ذهنونو د خرابېدلو سبب شوي وو. پولوس په دې لیک کې دا عقیده داسې بیانوي چې د څښتن د بیا راتللو وخت لا پخوا رارسېدلی دی. همدارنګه پولوس دې ته اشاره کوي چې مخکې له دې چې مسیح بېرته راشي نو بدي او شرارت به د یو نامعلوم شراچوونکي کس په مشرۍ خپل وروستني حد ته ورسیږي چې د مسیح سره به مخالف وي.

د تسالونیکې یو شمېر ایمانداران د مسیح بیا راتللو ته دومره لېوال شوي وو چې خپل ورځني کارونه یې پرېښي وو او په تنبلۍ سره یې خپل ژوند تېراوه. پولوس په ټینګه د هغوی څخه غواړي چې سره له دې چې ستونزې او تکلیفونه به موجود وي، خو په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي او د خوړو د لاسته راوړلو دپاره باید د پولوس او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د ملګرو په شان زيار وباسي او ښو او نېکو کارونو ته دوام ورکړي.

د ليک په پای کې پولوس د هغوی دپاره دعا کوي او د خدای ښخه چې د سولې او سلامتۍ سرچينه ده غواړي چې هغوی ته په هر حالت کې د زړونو سکون ورکړي.

## د موضوعګانو لست


سلامونه: ۱:۱–۲

د کړاوونو د زغملو دپاره د ايماندارانو هڅول: ۱:۳–۱۲

د مسيح د بېرته راتللو په هکله تعليم: ۲:۱–۱۷

د مسيحي ژوند په هکله نصيحت: ۳:۱–۱۵

اخرنۍ خبرې: ۳:۱۶–۱۸


## سلامونه

۱ ۱ دا ليک د پولوس او سيلاس او تيموتاوس له خوا د
تسالونيکيانو کليسا ته چې زمونږ د پلار خدای او ښښتن عيسی
مسيح کليسا ده. ۲ زمونږ د پلار خدای او ښښتن عيسی مسيح
فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## د عيسی مسيح د راتللو په وخت کې د خدای قضاوت

۳ ای خويندو او ورونو! مونږ بايد تل ستاسو دپاره د خدای شکر
وکړو او همداسې مناسبه ده، ځکه چې ستاسو ايمان ښه قوي کېږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستاسو مینه یو د بل سره نوره هم زیاتیږي. ۴ له دې امله مونږ
د خدای په نورو کلیساګانو کې د هغه صبر او زغم او ایمان دپاره چې
تاسو یې په ځورونو او تکلیفونو کې ښایئ، ویاړو.

۵ دا د خدای د عادلانه قضاوت ثبوت دی د دې دپاره چې تاسو
د خدای د هغې پاچاهۍ لایق کړي د کومې دپاره چې کړاوونه
زغمئ. ۶ څرنګه چې خدای عادل دی، نو هغه به هغو خلکو ته
سزا ورکړي چې تاسو یې ځورولي یئ. ۷ هغه به تاسو ته چې
ځوریدلي یئ، ارام درکړي او مونږ ته به یې هم راکړي. دا کار به هغه
وخت وشي چې کله زمونږ څښتن عیسی د اسمان څخه د خپلو
زورورو فرښتو سره ۸ د اور په لمبو کې راښکاره شي. هغه به
هغو خلکو ته چې خدای نه پیژني او زمونږ د څښتن عیسی زیری نه
مني، سزا ورکړي. ۹ د هغوی سزا به دا وي چې د تل دپاره تباه
شي او د څښتن د حضور او د هغه د قدرت د جلال څخه به
بې‌برخې شي. ۱۰ په هغه ورځ چې څښتن عیسی راشي، نو د خپلو
سپیڅلو خلکو له خوا به جلال ومومي او ټول ایمانداران به یې په
لیدلو ډېر حیران شي. په هغوی کې به تاسې هم شامل یئ، ځکه چې
تاسو زمونږ په شهادت باندې چې د هغه په هکله مو درکړ، ایمان
راوړ. ۱۱ له دې امله مونږ تل ستاسو دپاره دعا کوو. مونږ د خپل
خدای څخه غواړو چې تاسو د هغه ژوند لایق کړي چې هغه مو
ورته رابولي. هغه دې په خپل قدرت سره ستاسو ټولې نیکې هیلې
پوره کړي او ستاسو هغه کارونه دې پوره کړي چې په ایمان سره یې
کوئ. ۱۲ مونږ دا دعا د دې دپاره کوو، ترڅو زمونږ د څښتن
عیسی مسیح نوم ستاسو له خوا جلال ومومي او زمونږ د خدای او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن عیسی مسیح په فضل سره تاسو د هغه له خوا عزت ومومئ.

## شراچوونکی کس

٢ ١ ای خویندو او ورونو! اوس زمونږ د څښتن عیسی مسیح د
راتګ او د هغه سره زمونږ د یوځای کېدلو په هکله ستاسو نه
غوښتنه کوو، ٢ هوښیار اوسئ چې څوک ستاسو ذهنونه په اسانۍ
سره ګډوډ او پرېشانه نه کړي او ووايي چې د څښتن ورځ رارسېدلې
ده. که څوک دعوه وکړي چې مونږ د خدای له خوا الهام اخیستی یا
مو د چا د خولې نه اورېدلي دي او یا یې زمونږ له خوا لیک ترلاسه
کړی دی، نو باور ورباندې مه کوئ. ٣ هېڅوک دې تاسو په هېڅ
ډول ونه غولوي، ځکه چې تر هغې پورې به هغه ورځ رانه شي،
ترڅو د خدای په وړاندې بغاوت رامنځته نه شي او هغه شراچوونکی
کس راښکاره نه شي چې په قسمت کې یې دوزخ دی. ٤ هغه به
د هر هغه شي سره چې ورته خدای ویل کیږي او د هر شي سره چې
عبادت یې کیږي، مخالفت کوي او خپل ځان به د ټولو څخه لوړ
ګڼي. هغه به د خدای په کور کې کښېني او د خدايي دعوه به کوي.
٥ ایا تاسو ته په یاد نه دي چې کله زه تاسو سره وم نو د دې
ټولو شیانو په هکله مې درته وویل؟ ٦ نو اوس تاسو پوهېږئ چې
څه شی به د هغه د راتللو مخه نیسي، ترڅو هغه په خپل ټاکلي وخت
کې راښکاره شي. ٧ ځکه چې هغه شرارت اوس هم په پټه کار
کوي. خو هغه به هغه وخت ښکاره شي چې هغه څوک چې د هغه
مخه نیسي، هغه لرې شي. ٨ بیا به هغه شراچوونکی کس
راښکاره شي او څښتن عیسی به هغه د خولې په پوکې سره ووژني او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل جلال نه ډک راتګ سره به هغه له منځه يوسي. ۹ هغه
شراچوونکی کس به د شيطان په قدرت سره راځي او هر ډول
معجزې به ښايي او حيرانوونکي کارونه به کوي چې خلک وغولوي.
۱۰ هغه به د هغو خلکو سره چې د بربادۍ خواته روان دي، د هر
ډول چل څخه کار واخلي. هغوی به تباه کيږي، ځکه چې حقيقت نه
خوښوي او نه يې مني، ترڅو خلاصون ومومي. ۱۱ له دې امله
خدای به هغوی پرېږدي چې وغولېږي، ترڅو په دروغو باندې باور
وکړي. ۱۲ نو هغو ټولو خلکو ته به چې په حقيقت باور نه لري او
د بدو کارونو څخه خوند اخلي، سزا ورکړل شي.

## زمونږ په تعليم باندې عمل وکړئ

۱۳ خو ای څښتن ته ګرانو خويندو او ورونو! مونږ بايد تل ستاسو
ټولو دپاره د خدای شکر وکړو. خدای تاسو لکه د لومړني حاصل په
شان د خلاصون دپاره غوره کړي يئ، هغه خلاصون چې د روح
القدس په وسيله تاسو پاک او سپېڅلي او په حقيقت باندې په باور
لرلو سره پيدا کيږي. ۱۴ هغه تاسو د هغه زيري په وسيله چې مونږ
درته راوړ، راوبللئ، ترڅو زمونږ د څښتن عيسی مسيح په جلال کې
شريک شئ. ۱۵ نو بيا ای خويندو او ورونو! هغه څه چې مونږ
تاسو ته تعليم درکړی دی، که هغه مو درته په خوله ويلي دي يا مو د
ليک په وسيله درکړی دی، په هغه باندې ټينګ ودرېږئ او عمل
ورباندې وکړئ.

۱۶ نو خپله زمونږ څښتن عيسی مسيح او زمونږ پلار خدای دې
چې زمونږ سره يې مينه وکړه او په خپل فضل سره يې مونږ ته تلپاتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تسلي او ښه هیله راکړه، ۱۷ تاسو ته د زړونو تسلي درکړي او په
هر ښه کار او خبرو کې دې تاسو ته قوت درکړي.

## زمونږ دپاره دعا وکړئ

۳ ۱ نو ای خویندو او ورونو! په پای کې غواړو زمونږ دپاره
دعا وکړئ چې د ښښتن عیسی پیغام زر خپور شي او په عزت سره د
خلکو له خوا قبول شي، لکه څنګه چې ستاسو په منځ کې خپور شو.
۲ همدارنګه دعا وکړئ چې خدای مونږ د بدکارو او خرابو خلکو
څخه وژغوري، ځکه چې ټول خلک په هغه پیغام ایمان نه لري.
۳ خو تاسو کولای شئ چې په ښښتن توکل وکړئ، ځکه چې
هغه به تاسو قوي کړي او د شیطان د بدی څخه به مو وساتي. ۴
ښښتن ستاسو په هکله مونږ ډاډمن کړي یو چې تاسو به هغه کارونه
کوئ چې مونږ یې درته حکم کړی دی او هغو ته به دوام ورکوئ.
۵ ښښتن دې تاسو ته لارښوونه وکړي چې د خدای په مینه او د
مسیح په صبر او زغم باندې پوه شئ.

## د تنبلی په هکله خبرداری

۶ خویندو او ورونو! اوس مونږ تاسو ته د خپل ښښتن عیسی
مسیح په نوم حکم درکوو چې د هغو ایماندارانو څخه لېرې اوسئ
چې په تنبلی سره خپل ژوند تېروي او په هغه تعلیم باندې عمل نه
کوي چې مونږ ورته ورکړی دی. ۷ تاسو خپله ښه پوهېږئ چې
څنګه باید زمونږ د مثال څخه پیروي وکړئ، ځکه کله چې مونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو سره وو، نو مونږ تنبلان او لټان نه وو. ۸ مونږ د هېچا
ډوډی مفته نه ده خوړلې، بلکې شپه او ورځ مو کار کړی او زحمت
مو ويستلی دی، ترڅو په چا باندې بار ونه اوسو. ۹ دا له دې
امله نه ؤ چې مونږ حق نه درلود چې ستاسو څخه خواړه وغواړو،
بلکې مونږ غوښتل چې ستاسو دپاره مثال شو، ترڅو زمونږ څخه
پيروي وکړئ. ۱۰ کله چې مونږ ستاسو سره وو، نو تاسو ته مو دا
حکم کاوه: څوک چې نه غواړي کار وکړي، نو هغه دې ډوډی هم نه
خوري. ۱۱ ځکه چې مونږ اورېدلي دي چې په تاسو کې ځينې
خلک شته چې خپل ژوند په تنبلی سره تېروي، هغوی کار نه کوي،
بلکې د نورو په کارونو کې لاس وهنه هم کوي. ۱۲ مونږ داسې
خلکو ته د څښتن عيسی مسيح په نوم حکم کوو او ورڅخه غوښتنه
کوو چې په ارامی سره دې خپل کار کوي او خپله ډوډی دې په خپله
ګټي.

۱۳ خو ای خويندو او ورونو! تاسو هېڅکله هم په ښه کار کولو
کې زړه مه تنګوئ. ۱۴ که چېرې څوک هغه خبرې چې مونږ په
دې ليک کې ليکلي دي نه مني، نو د هغه سره ملګرتيا مه کوئ، ترڅو
هغه وشرمېږي. ۱۵ خو هغه دښمن مه ګڼئ، بلکې د يو ايماندار
ورور په شان ورته نصيحت وکړئ.

## اخرنی خبری

۱۶ اوس دې څښتن چې په خپله د سولې او سلامتی سرچينه ده،
تاسو ته په هر وخت او هر حال کې ارامي درکړي. څښتن دې تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو سره مل وي. ۱۷ دا سلامونه ما پولوس په خپل لاس تاسو ته
ليکلي دي او د ثبوت دپاره زما په ټولو ليکونو کې دا زما د ليکنې
نښه او طريقه ده. ۱۸ په تاسو ټولو باندې دې زمونږ د څښتن
عيسی مسيح فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.